americanjobcenter

**ترټولو نژدې دندې مرکز د پیدا کولو لپاره:**

**له څخه لیدنه وکړئ[www.servicelocator.org](http://www.servicelocator.org) یا 1-877-US2-JOBSیا (TTY) 1-877-889-5627 شمېرې سره اړیکه ونیسئ**

د امریکا د دندې مرکزونه، چې د واحد-مرکز د مرکزونو په نوم هم یادیږي، په هېواد کې د شاوخوا 2,400 لیږد نقطو د یوې سترې شبکې له لیارې په هرې ټولنې کې د دندې په لټه کې کسانو د دندې اړتیاوې او د کاروبار د بشري سرچینو اړتیاوې پوره کوي. د متحده ایالاتو د کار، ګمارنې او د روزنې د مدیریت وزارت د امریکایي دندې مرکزونو لپاره د ایالت د کاري ځواک د مدیره هیئت له لیارې بودجه برابروي چې د ټولنې د کالجونو، د ټولنې پر بنسټ سازمانونو او دولتي ادارو لخوا پرمخ وړل کیږي.

## د دندو په لټه کې کسان د بشري سرچینو له مجربو کارپوهانو څخه د ګمارنې او دندې لارښود ترلاسه کوي

د امریکا د دندې مرکزونه افرادو ته د هغوي د مسلک په اوږدو کې د ژوند د ګټورې دندې لپاره جامع چوپړتیاوې او حل لارې برابروي. د امریکا د دندې مرکزونه د ټولنې له سرچینو څخه رامنځته کیږي ترڅو ګڼ شمېر دندې او نورې اړوند چوپړتیاوې رامنځته کړي چې د دندو د اړتیاوو او ستونزو د حل لپاره د لاسرسي وړ وګرځوي. دغه چوپړتیاوې ښاریانو، قانوني دایمي اوسېدونکو، کډوالو، پناه غوښتونکو، د بشردوستانه ویزې غوښتونکو او نورو مهاجرینو ته چې په متحده ایالاتو کې د کار کولو جواز لري د لاسرسي وړ دي.

### د دندو چوپړتیاوې

- د دندې موندلو او ځای پر ځای کېدلو، د مسلک د پرمختګ او پراختیا لپاره، ابزار، سرچینې او مرسته
- د دندې د ټاکلو ستونزو لرونکو افرادو لپاره لکه د معلولیت لرونکي اشخاص، زاړه کارګران او تجربه لرونکو لپاره بشپړې چوپړتیاوې
- په وده کونکو دندو کې زده کړې او روزنې ته لاسرسي

### د مسلک لارښود:

- د معاشاتو او د دندې د تګلارو او د لوړې ودې لرونکو دندو په اړه د مالوماتو په ګډون د کاري ځواک مالومات او د محلي کار د مارکېټ په اړه مالومات
- د مسلک لارښود او د مسلک د لارو پلان جوړونه
- د انفرادي کار موندونکو د پوهې، مهارتونو او وړتیاوو ارزونه او د روزنې لپاره ملاتړ

### د روزنې او زده کړې فرصتونه

- د بېکاره، لږ کار لرونکو، ځوانانو، ځوانو لویانو، زړو کارکونکو او نور جمعیت لپاره روزنې او زده کړې ته د لاسرسي برابرول
- د صنعت لخوا پېژندل شوو بري لیکونو وړاندې کول
- د ځانګړو روزنیزو پروګرامونو پراختیا لکه له دندې څخه وړاندې روزنه
- د لارښوونو او دندې پرمهال روزنې سره د کار زده کړې له پروګرامونو سره نښلېدل

# د امریکا د دندې مرکزونه د ګمارونو او سوداګریو د کاري ځواک ملاتړ کوي

د امریکا د دندې مرکزونه د ګمارنې د دوران، روزنې، ساتلو او د کارکونکو د انتقال پر جریان کې دوامداره چوپړتیاوې وړاندې کوي.

دغه مرکزونه د دندې په لټه کې کسانو او د سوداګرۍ له پېرودونکو سره کار کوي ترڅو د هغوی اړتیاوې مشخص کړي او د کاري ځواک ننګونو لپاره ګڼ شمېر حل لارې برابرې کړي. په ممکنو چوپړتیاوو کې لاندې چوپړتیاوې شاملې دي:




**ګمارنه او ټاکل:**

- د ننوتلو له کچې څخه تر لوړ مهارت لرونکو مسلکي کسانو تر کچې پورې د مختلفو کار موندونکو ګمارنه، چاڼول او راجع کول
- د بشپړ وخت، بعد له وخت او موسمي کارکونکو ګمارنه
- د دندې د ننداړتونونو کوربه توب او په ساحې کې د کارکونکو د ټاکلو او مصاحبې لپاره د دفترې فضا برابرول
- انساني پانګې او د کارکونکو ناکارول شوو سرچینو ته د لاسرسي برابرول
- د معاشاتو، د دندې د تګلارو او ملي پرتله کولو په اړه د کاري ځواک د مالوماتو وړاندې کول

**د کاري ځواک انتقال:**

- دولتي او محلي چټک غبرګون
- په ساحې کې د چوپړتیاوو برابرول لکه له دندې څخه تر ګوښه کولو وړاندې او د ساتلو مالومات
- له دندې څخه د ګوښه کولو له خبرتیا څخه تر پای ته رسېدو پورې د انتقال د بهیر آسانول
- د انفرادي کارګر د مرستې لپاره د بودجې او چوپړتیاو ته د لاسرسي لرلو د پلانونو پراختیا

- ټولنې سره مرسته کول ترڅو له دندې څخه د ګوښه کولو د همغږي شوو ځوابونو ته پراختیا ورکړي
- د سوداګرۍ د تنظیم مرسته –انتقالونکو کارګرانو لپاره د روزنې او عاید د ملاتړ کونکې پروګرام برابرول
- د محدود شوي وخت فدرال بودجې د مرستې له لارې د بې ځایه کولو د مهمو پېښو لپاره د ملي بېځایه شوو کارګرانو مرستې  ترڅو په ایالتي او محلي کچو د چوپړتیاو ظرفیت په پراختیا ورکړل شي

**د کارکونکو ساتل او د مهارت لوړول:**

- د دندې پرمهال او کار ځای کې روزنې پراختیا او اوسنیو کارکونکو ته د روزنیزو چوپړتیاوو برابرول
- • په روزنه کې ښکېلو اشخاصو ته د چوپړتیاوو لکه ترانسپورت، د ماشوم د پاملرنې مرستې، او د لارښوونې پروګرامونو د وړاندې کولو له لارې د کارکونکو د ساتلو ملاتړ کول
- د کار د فرصت د مالیې کریډیټ ته د درخواست کولو په برخه کې له سوداګرۍ سره مرسته کول
- له دندې څخه د ګوښه کولو له ستراتېژو څخه بېزارۍ کې مرسته

**تر ټولو نژدې امریکايي دندې مرکز د پیداکولو لپاره: له [www.servicelocator.org](http://www.servicelocator.org) څخه لیدنه وکړئ یا -1-877-US2 JOBS یا (TTY) 1-877-889-5627 سره په اړیکه کې شئ**